# د کابل د پښتو ټولني اقتراح ته یوه کتنه

پښتو به څه ډول لوړه سي؟
پښتو به په څه ډول خپره سي؟

دا دوې پوښتني دي، چي هر پښتون د زړه مینه ورسره لري او د ښاغلي څلمي اعلیحضرت د پښتو روزنه او پالنه ده چي نن په دې هیواد کښي کوچنی او لوی، لوړ او ځوړ سړی ټوله غواړي د دې پوښتنو په ځواب کښي برخه واخلي. څو میاشتي دمخه د پښتو ټولني په کابل کښي رسماً د مسابقې او اقتراح په ډول دغه پوښتني کړي، او له پښتنو څخه یې رای او فکرونه غوښتي وه.

د کابل مجلې په (۸۳) شماره کښي لمړی هغه ځواب نشر سو چي جناب محمدرسول خان ترکي لیکلی، او په دي اقتراح کښي یې لمړۍ درجه میندلې وه، د ښاغلي ترکي لیکنه ما ولیده، او ومي کتله، ډېره متینه او خوږه او منلې ده، د ژبي د ژوندون او خپورتیا لپاره یې درې لاري ښوولي وې :

۱. د پښتو زده کول په هغو سړو چي دا ژبه یې نه ده زده.
۲. د پښتو د قاموس لیکل.
۳. د صرف او نحو تکمیل.

فاضل لیکونکي د هر اصل لپاره بیا نوري ځانګي میندلي، او د دې درو چارو اصول او لاري یې بیلي ښوولي دي، چي د دې څلمي لیکونکي په لیك کښي موږ دګوتي نیولو ځای ونه میندلی، د مقالې په پای کښي یې د پښتو د رسم الخط و سموني ته اشاره کړې ده او د موضوع له تفصیل څخه یې معافي غوښتې، چي اوس د دې چاري وخت نه دئ او فرصت مساعد نه دئ.

موږ هم د فاضل څلمي دا لیك خورا پوخ ګڼو، او د ده سره ملګري یو. ولي چي دوی ټوله لاري د علم په استناد راښوولي دي او د انصاف په سترګه یې موضوع سپړلې ده.

دوهم ځواب د اقتراح جناب محمد ابراهیم خان عفیفي ورکړی دئ، چي دا لیك متاسفانه تر اوسه ما ندی لیدلی، ځکه نو څه نسم پر لیکلای.

دریم ځواب جناب سید قاسم رشتیا د پښتو ټولني د نشراتو مدیر لیکلی او د دریمي جایزې په اخیستنه مؤفق سوی دی، دا لیك د کابل مجلې په (۸۵) شماره کښي خپور سوی دی، او اوس درې میاشتي وروسته تر ډېرو غوښتنو ما ولوستی.

فاضل څلمي د پښتو پر ژوندون باندي خپله رایه ښکاره کړې او موضوع یې ښه سپړلې ده.

ځکه چي پښتانه ټوله د پښتو د ژوندون په چاروکښي د وینا حق لري، او دا ژبه د دوی ده، او په حکم د (صاحب البیت او دری بما فیه) دوی په دغو چاروکښي احق دي، نو زه چي یو پښتون یم، هم غواړم، چي دغه موضوع کښي ګډ سم، هیله لرم چي د پښتو محترمه ټولنه او هغه څوك چي اوس دوی د پښتو ژوندون او پر مخ یون ملوني په لاس کښي اخیستي دي دا زما پر وینا غور وکړي، او فاضل لیکونکی جناب رشتیا هم دغه و وایي، او زما په دغه لیك زهیر نسي.

ژبه جوړوو؟ که یې ژوندۍ کوو؟

تر هر څه لمړی به موږ پر دغه خبره ځېرنه وکړو، چي آیا موږ نوې ژبه د ځان لپاره جوړوو؟ اوکه هغه زړه پښتو ژوندۍ کوو؟ دا یو ښکاره او تر لمر څرګنده خبره ده، چي په دنیا کښي هیڅ ژوندی ملت نسته، چي د خپل

عصري ارتقاء او نهضت سره يې نوې ژبه هم ځان ته جوړه کړې وي ملت چې هر ډول پر نړۍ د لوړتيا او برم خاوند سي او په ټولو حياتي چارو کښې د نوي توب (تجدد) پر خوا وي بيا هم د ژبې په مسئله کښې ناچاره د قدامت او زوړوالي خواته درومي، ځکه چې د نوي ژبې جوړول په څو کاله ممکنه چاره نده، نو ځکه ژونديو ملتو هم د خپلو ژبو د لوړتيا په لار کښې خپلې زړې ژبې تر اصلاح او سمون لاندي راوستلي، او پر عصري اړتياوو يې سمي کړي دي، د ژبو ادب، قواعد، د بلاغت اصول ، صرف او نحو او ټوله د ژبې والي نخښې زړې دي، چې د ژبې سره يو ځای پيدا سويدي.

د ژبو خدمت کونکی يعنی د ادب علماء بېله دې بل څه نه کوي چې هغه زاړه د ژبې اصلي قواعد او اصول پلټي او سره راغونډوي يې.

دا پلټنه او راغونډول هم ځانته لاري لري، اصول لري، د اجتهاد خوا نه ده، بلکي هر څه چې ژبه په ځان کښې پټ لري اديب او د ژبې عالم دغه پټ اصول راباسي او ليکي يې، او زيار کاږي چې يو د بله دغه قواعد او اصول سر سره وخوري او ژبه سره له خپلو ښېګړو ژوندۍ سي.

نو اديبان او د ژبې خدمت کونکي د ژبې جوړونکي ندي، بلکي د ژبې ژوندي کوونکي دي.

دوی ښايي چې د ژبې د اصلي قواعدو او ادبي خوږو په پلټنه کښې له امانت او ديانت څخه کار واخلي، او پخپله هم د هغې ژبې اهل وي، يعنی په حقيقي ادبي ذوق يې روږد وي، له موره او پلاره يې ژبه زده کړې وي، او ژبې ته د هغې ژبې په هنداره کښې وګوري، د پرديو ژبو د ادب له پلوه د خپلې ژبې پلټنه ونه کي، ولي چې د هري ژبې ادبي مزايا بېل دي، هغه چې په پښتو کښې و نورو ته هيڅ خوند نه ورکوي، پښتون يې له اروېدلو څخه نڅا کوي او هيجان ورځي. بالعکس د پردۍ ژبې هر ډول لوړ ادبي مضمون چې پښتانه ته وواېې که څه هم په هغه ژبه پوهيږي مګر هغومره خوند نسي ځني اخيستلای.

پر يوه ژبه د ادب او تنقيد له خوا کتنه هم د هغه چا حق دی چې په هغه ژبه پوهيږي، او په ادب او اصولو کښې يې د علم خاوند وي. دا تر اصلي موضوع دمخه يو څو خبري وې اوس به نو ولاړ سو، اصلي مطلب ته به مخ واړوو :

فاضل ځلمي جناب رشتيا د خپل ليك په ۱،۲ فقره کښې د ژبې د لوړتيا لاري ښه راښوولي دي رشتيا هم دا ده چې د پښتو ټولنه او بيا د پښتو يوه عمومي جرګه ډېره ګټه لري او مفيده ده، په دې شرط چې تر صحيح اساس لاندي وي او په ژبه پوه د علم او ادب خاوندان پکښې شامل وي او په داسي جرګو کښې اصلي مرام هم تحقيق او تدقيق او سمه پلټنه وي، د ښيګړې پر غوره کولو داسي څېړنه وسي چې د ګندوالي څخه تشه وي، او له هر راز اغراضو څخه پاکه وي.

په دوهمه فقره کښې حقيقتاً جناب رشتيا د لهجو مسئله ښه حل کړې ده، چې دا اختلاف خو لمړی خورا لږ دی او بيا هم د متحدي املا په ذريعه قدماؤ حل کړی دی، ځکه چې املا يوه ده، که تلفظ څوك بل راز کوي، اوس دا خبره دومره مشکله نه ده. البته هر څوك به زيار کاږي که کوم د پښتو لغات په خپله خوا کښې ونلري، او په بله خوا کښې وي دغسي کلمات به اخلي، او خپروي به يې چې دا د ژبې ښېګړه او ارتوالی دی.

په دربيمه فقره کښې هم فاضل ليکونکی د ژبې د سمون سمه لار را څرګنده کړې ده چې د فني او علمي او عصري اړتياو د هيسته کولو لپاره به ګورو چې نورو ژبو له کومي لاري څخه دا خپلې اړتياوي بشپړي کړي دي، او څنګه يې د زړو لغاتو له وليو څخه نوي عصري کلمات را ايستلي او جوړ کړي دي؟ موږ به هم د نوو عصري کلماتو لپاره دغه لار نيسو په دې فقره کښې د ښاغلي ليکونکي ملګري يو، مګر که په مشرقي ژبو کښې يوه نمونه او مثال د دې کار وميندل سي ځکه چې زموږ ژبه و مشرقي روح ته نژدېوالی لري، نو تر مغربي ژبو دغسي شرقي ژبه، اقربه او افضله ده، ځکه چې زموږ ژوندون، احتياجات، ادبيت او محيطي مقتضيات نسبتاً سره نژدې دي او په

دوره کښې د بداوت خپله ژبه ژوندۍ کوو حال دا چي اروپايي ملتو د خپل مدنيت په منځنۍ دوره کښې مثلاً د ژبو و سمون ته توجه کړې وه، که په مشرقي ژبو کښې داسي ژبه ونه مومو بيا به يې نو په مغرب کښې پلټو.

په څلرمه فقره کښې چي فاضل ليکونکي د پښتو د الفباء و اصلاح ته توجه کړې ده، دا فقره زما په عقيده تر وخت دمخه ده، د ژبو د رسم الخط اصلاحات يا ترميم يا تبديل هغه وخت کيږي، چي يو وار ژبه په صحيح ډول منځته راووزي او د ژوندون ساه ومومي، بيا نو په دې خبرو کښې څېړنه کيږي.

تر اوسه لا زموږ ژبه عامو خلکو زده کړې نه ده په رسمياتو او ليک کښې يې پل نه دی ايښی، آثار او کتب يې ورك دي اوس که موږ مثلاً د رسم الخط په سمون بوخت سو يو ادبي عام فوضويت به جوړ سي چي بيا به يې علاج هم ګران وي.

په دې باب کښې موږ ته د نورو ملتو تجربه هم پرته ده دوی هغه وخت د رسم الخط په اصلاح کامياب سوه چي يو وار يې خپلي ژبي ته وجود ورکی، اوس که موږ په دې ګران کار بوخت سو، او لکه چي جناب رشيتا ليکي مثلاً د مرکباتو پر ځای مفردات غوره کو، او د حرکاتو پر ځای لکه د لاتين حروف، مخصوص حروف وليکو، دا کار علاوه پر دې چي اوس زموږ له لاسه پوره ندی ذاتاً به هم مسلم او مفيد نه وي ! زموږ نن ورځنی حال کټ مټ پر دغه عربي متل سم دی چي ثبت العرض ثم النقش. موږ يو وار ښايي خپله ژبه ژبه کړو بيا يې په نورو ښايستو پسي وګرزو، دا هم يوه ښکاره خبره ده چي د ژبي سمون او خپرول او ژوندون د يوه عصر کار ندی موږ نسبت و خپلي ژبي ته بېل وظايف لرو، زموږ زامن بيا بېل وظايف لري، زموږ لمسي کړوسي به بيا هغه خدمت ورته کوي چي نه موږ نه زموږ زامنو کړی وي !

اوس موږ د ژبي په خدمت شروع وکړه، ښايي چي ابتدايي او منځنۍ او د پای دورې يې سره بيلي کړو، لمړني خدمت کوونکي ښايي د منځنيو کار دوی ته پرېږدي او خپله وظيفه اجراء کړي موږ اوس ځني لومړني کارونه په مخ کښې لرو، که دغه کارونه ونکړو او په اصلاح د رسم الخط او نورو انتهائي کارونو بوخت سو نو به داسي وي لکه پر اوبو چي کښېده جوړوو، يا لکه پر وچه چي اوبازي کوو، فاضل ليکونکي ليکلي دي چي ص، س، ث او نور ځنی حروف په پښتو کښې مکرر دي په دې خبره نه وپوهېدو، پښتو خو مکرر حروف د سره لري نه ص، ث، ذ خو بالکل په پښتو کښې نسته دا خو عربي حروف دي چي په پاړسي کښې هم نسته، که په پښتو کښې مثلاً راغلي وي د عربيت په حيث به راغلي وي که نه په پښتو ژبه کښې خو دا حروف کورټ نه راځي، او د پښتو لمن د مکررو حروفو څخه پاکه ده.

اختلاف د اشکالو د حروفو هم دومره ندی لکه جناب رشتيا چي ليکي، په مختلف ډول نه ليکل کيږي دغه رسم الخط چي اوس پښتو ټولني منلی دی د ټولو پښتنو قبول دی، هيڅ اختلاف نسته او نه دا اشکال ګڼل کيږي.

فاضل ليکونکی وايي : چي په پښتو کښې څلور حرکته دي چي د دې حرکاتو د اظهار لپاره مخصوص حروف نسته، دا نقيصه خو يوازي د پښتو نده بلکي ټوله مشرقي ژبي غالباً په دغه ډول دي د پاړسي ژبي د ادب عمر زر کاله دئ تر اوسه لا هم د دغي نقيصې د ورکولو وار ندی راغلی انګرېزي ژبه که څه هم په لاتين حروفو سره د حرکاتو لپاره مخصوص حروف لري مګر سره د دغه هم د کلماتو تلفظ يې ډېر په سماع اړه لري، ډېر کلمات سته چي حروف علت يې يو وي، مګر تلفظ يې بېل وي لکه : Blood, good, Pool دا درې کلمې درې سره په منځ کي دوه OO يعني واول لري مګر د درو سرو تلفظ يو له بله بېل دی دغسي هم Cool, Poor, Spoon, School ټوله په سماع اړه لري، او غالباً تر قياس نه لاندي کيږي علاوه تر دې فاضل ليکونکی يو عجب موهوم رسم الخط غواړي چي حروف به يې مشرقي وي اما مفردات چي تر هر حرف وروسته به يې حرکات هم ليکل کيږي. مثلاً که پر دې ډول موږ وغواړو چي کلمه د (بد) وليکو ښايي چي داسي راسي : (ب ا

د) په دې ډول به نو آيا موږ له يوه اشکاله په بل اشکال کښې چې هغه ډېر دروند دی ونه لوېږو؟

په هر صورت موږ اوس د دې تجويز پر خوا نه يو بلکې په اوسني وخت کښې يې ډېر مضر او د نه کړو چاره ګڼو، چې موږ له اصلي مطلب څخه چې د پښتو ژبې ژوندون او سمون دی خورا ليرې پاته کوي، او ناکام مو پرېږدي په اوس وخت کښې زموږ وظايف د پښتو لمړنی خدمت دی داسي کارونه بيا زموږ و آينده توکم ته پاته دي، موږ ښايي خپله دنده تر سره ورسوو او په ما لا يعنی بوخت نه سو، او نه د دغه وخت لرو.

تر دې فقرې وروسته فاضل ليکونکی ليکي د پښتو صرف او نحو ته مخ ګرزوي او وايي چې د پښتو صرف او نحو څه نواقص لري، چې اصلاح يې ضروري ده دا فقره موږ نسو منلای بلکی جداً يې ترديد کوو.

هوکې ! د پښتو صرف او نحو که څه نواقص ولري دا نواقص يې فقط له دغه لامله دي چې چا څېړنه او تحقيق او تدقيق ندی پکښې کړی، سره د دې چې تر اوسه چا په دغه باب کښې زيار ندی کښلی بيا هم موږ ويلای سو چې د دې ژبې ګرامري تشکيلات ډېر وسيع او تر اکثرو ژبو سم او صحيح دي که چا تحقيق نه وي کړی يا يې کشف او پلټنه نه وي سوې، دا خو نو د ژبې ګناه نه ده. جناب رشتيا د مثال په ډول دا د پښتو صرفي او نحوي نواقص داسي ښيي :

١. د متعددو صفتو تابعيت په پښتو کښې مورد د اختلاف دی چې په تذکير او تانيث کښې به صفت د کوم موصوف تابع وي، مثلاً : "ستاسي قلمونه او مشوانۍ سرې او سپيني دي" په دې ځای کښې به د سره او سپين صفت مذکر وي که مؤنث.
٢. د اضافاتو تتابع د فقرې وضعيت او ادبي شکل په پښتو کښې ورانوي مثلاً : (د احمد د اکا د ورور د زامنو قلم) چې د دې جملې ادبي شکل او فصاحت بالکل وران دی. (د دوی په قول)

دا دوې فقرې چې فاضل ليکونکي د پښتو د صرف او نحو د نواقصو په مثال کښې راوړې دي قطعاً په نواقصو کښې نه راځي د يوې ژبې د نواقصو پلټنه د هغه چا حق دی چې په هغه ژبه کښې ادبي ذوق ولري او زده يې وي. که نه نو هغه شی چې اهل د ژبې يې عين فصاحت ګڼي دی به يې نقص بولي، په لومړي مثال کښې اختلاف نسته، او بيا هم که اختلاف وي، دومره دروند اختلاف ندی، چې په نواقصو کښې وشمېرل سي، دواړې محاورې يې صحيحي دي او هيڅوك د ژبې اصلي او موضوعي اساس نقص نسي ګڼلای، دا د لهجو اختلاف خو يوازې پښتو نلري هره ژبه له دغه تشه نده، دا عين د ژبې کمال او وسعت دی، او اهل د ژبې کوربټ د نقص په سترګه نه ورته وګوري، او داسي مسئلې که په ګوته وشمېرل سي، تر دوې درې نه اوړې حال دا چې داسي اختلافونه په ژونديو ژبو کښې هم سته، د عربي ژبې ادبيات د بصريونو او کوفيونو او عراقيونو او حجازيونو په اختلاف ډك دي حال دا چې دغه نه نواقص ګڼل کيږي او نه يې چا ورکول غوښتي دي. بلکې د پرديو ژبو پوهانو او مستشرقينو په شهادت عربي ژبه نن د دنيا په لوړو ژبو کښې ګڼل کيږي او پردي هم ورته تسليم دي. د اضافتو پله پسې والی خو د ژبې د اهل په نزد بد ندی او نه د پښتو ژبې پوهېدونکي او هغه څوك چې دا ژبه يې له موره زده کړې وي، دا مسئله نقص بولي، نه پوهيږو چې جناب رشتيا ولې د اضافاتو تتابع له ادبيته ليرې بولي، د يوه سړي ذوق خو د ژبې و ادبيت ته معيار نه کيږي هغه څوك چې د پښتو په ادب او د کلام په سبك او خوږوالي د ژبې اشنا دي، او د ژبې خاوندان دي، هغه خو کوربټ د اضافاتو پله پسې والی له بلاغته ليرې نه ګڼي، بلکې دغه عين بلاغت دی، د يوه سړي ذوق او ادبي کنجکاوی د ژبې اصلي او فطري د فصاحت او ادب اصول نسي ور ورانولای، او نه هغه څوك چې د ژبې خاوند او د ادب عالم نه وي پر يوه ژبه داسي تنقيد کولای سي. پښتنو ته دغه د اضافاتو تتابع چې جناب رشتيا يې نقص ګڼي، او اصلاح يې غواړي، ښه خوند ورکوي او دا عين فصاحت دی نه نقص.

خوشحال خان ختك وايي :

د ناکس د تربیت سره څــــه کار دی
د سنګیړ د زراعت سره څه کار دی

یا دا :

د بنو اوښي مي ويني شي ترې څاڅي
دا د تن جامه مي نه وي د اغـــــوستو

عبدالقادرخان ختټك وايي :

د زاهد هیله د حور او د قصور ده
عاشــقان يي و ديدن ته تمنـــــا کا

یا دا :

دکوثر د اوبو آب دي مــــخ لرینه
د مشــــتاقو ځني نه ماتيږي تنده

په دې بیتوکښي چي د اضافاتو تتابع پښتون و وايي حظ ځني اخلي که بل چا ته خوند ور نه کي، پروا نه لري، د ژبي په بلاغت او ادبیت خو هم اهل د هغه پوهيږي.

دا نقص (؟) يوازي پښتو ته هم متوجه نه دی، د دنیا ټوله ژبي چي د اضافت لپاره بېل حروف لري او حرکت يې د اضافت نخښه نه وي، دا نقص (؟) پکښي سته. مثلاً : په انګریزي کښي چي نن د ژوندیو ژبو سر ده (of, s) د اضافت علامت دي، که دغه د جناب رشتیا جمله (د احمد د کا د ورور د زامنو قلم) په انګلیسي ترجمه کو هم کټ مټ دغه د اضافاتو د تتابع نقص پکښي راځي، مګر هیڅوك حق نلري چي یوه انګلیس ته و وايي چي دا جمله د فصاحت څخه خالي ده، او د ژبي نقص دی :

The pen of the sons of the brother of the uncle of Ahmad وګورئ چي په دغه جمله کښي څلور واره of راغی، چي کټ مټ د پښتو نظیر دی، اردو ژبه هم د اضافت لپاره بېل حروف لري، دغه جمله به داسي پکښي ليکل کيږي: (احمد کی چي کی بهائی کی بیټون کا قلم) ممکنه ده چي نورو ژبو کښي هم دغسي وي، چي اضافت يې په حرکت نه وي، لکه د پاړسي او عربي.

بل نقص د پښتو د صرف او نحو چي جناب رشتیا ښيي دا دی: "چي پښتو فعل وجوبي او ماضي مقدم نلري، او دا ډول افعال د ژبو لپاره ضروري دي" د فعل وجوبي په مطلب ونه پوهېدو چي څه دی؟ زموږ په مصطلح ګرامر کښي خو د داسي ډول فعل تعریف په پاړسي، عربي، اردوکښي ندی سوی، البته دا به له خواصو د مغربي کومي ژبي وي، نو دلته دا خبره هم ښايي چي و ويله سي چي هره ژبه ځانته بېل اصول، قواعد، شکل او خواص او مزايا لري، هيڅ لازمه نده چي د يوې ژبي ټوله خواص دي په بله ژبه کښي موجود وي، ډېر خواص او مزايا پښتو لري چي نوري ژبي يې نلري، ډېر خواص بيا نوري ژبي لري چي هغه کټ مټ په پښتوکښي نسته، پر موږ هم هيڅ نده لازمه چي کټ مټ ټوله د فرانسوي ژبي خواص او مزايا مثلاً په پښتوکښي وغواړو، ځکه چي د فرانسې کلتور او روحيات او د محيط مقتضيات بېل دي، د پښتنو دا بېل دي، هغه احتياجات چي مثلاً د فرانسې ادب لري کټ مټ د پښتو ادب هغه اړتياوي نلري هغه چي موږ نن په دې خاوره کښي د پښتو او پښتنوالي تر سيوري لاندي غواړو هغه زموږ لپاره مخصوص دي! نو ځکه هيڅ ژبه مجبوره نده چي د بلي ژبي ټول خواص دي په ځان کښي وومي که يو له خواصو څخه د مغربي کومي ژبي يوې مشرقي ژبي نه درلود دا نو نقص د دې ژبي ندی ځکه چي د هري ژبي ګرامري تشکيلات بېل دي، موږ دا نسو ويلای چي انګريزي ژبه مثلاً د افعالو په اصل کښي تذکير او تأنيث نلري، نو ښايي چي انګليسان ژر د خپلي ژبي دا نقص رفع کي، ځکه چي پښتو يا عربي خو دا خصيصه لري.

بل د پښتو لوی نقص دا ګڼلی سوی دی چي ماضي مقدم نلري، پښتو خو د ماضي اقسام ټوله لري، لکه : مطلق، قريب، بعيد، استمراري، احتمالي، شکيه، امکاني، اما د ماضي مقدم لپاره که په فرانسوي بېله صيغه ونلري، دا خو نقص ندی، ځکه چي پخپله فرانسوي او انګرېزي د افعالو د وېشلو بېل تشکيلات لري او پر مشرقي ژبو نه قياسيږي، که د جناب رشتيا مطلب د فرانسوي ژبي ماضي اتم وي چي عرب يې (حکايه الماضی فی الماضی) تعريف کوي، او مطلب يې دا دی چي د دوو چارو وقوع په تېره زمانه کښي يو له بله پسي راښيي د دې تعبير خو په پښتو کښي سته، که بېله صيغه ونلري، هيڅ لازمه نده. مثلا دا جمله (همان ساعت که لباس پوشيدم، بيرون رفتم) Aussrtot que je mefus halrlle ji sortis په پارسي کښي خو په ماضي مطلق تعبير په وسو، پښتو هم دغسي ده (هغه ګړی چي مي کالي واغوسته، نو دباندي ووتم) کله کله لومړی په استمراري او دوهمه په مطلقه يا بعيده سره ادا سي لکه (څو ته راتلې موږ ډوډۍ وخوړه) يا (ماښام څو ته راتلې موږ ډوډۍ خوړلې وه) که په ژبه کښي افاده او استفاده مطلب وي، خو سته، دغسي پل پر پل به د پردو تقليد هم لازم نه وي.

ښايي چي موږ لمړی د ژبي خپلې فطري ښېګړي ومومو، کشف او پلټنه يې وکو، راټولي يې کو، وروسته مو نو که په ادبي کېنډو لا ښکلې کوله، بيا به کورو. مګر زه دا اوس لا وايم، چي دا زموږ تر شا پاته ژبه دومره ارت استعداد او ادبي ښيګړي لري چي موږ به د نورو و تقليد ته پرېنږدي او په ځان کښي به ټوله ښګڼي ومومي.

په شپږمه فقره کښي جناب رشتيا د پښتو لغاتو د ژوندون او ټولولو ضرورت څرګند کړی دی موږ هم د دوی ملګري يو. په اومه فقره کښي د لغاتو د ټولولو لار که څه هم اساسي لار ده مګر اوس دستي چي موږ د پښتو فرهنګ او لغت ته احتياج لروکې مثلاً په دغه ډول ترتيب کړو، له اصلي مطلبه به پاته سو، البته دا اساسي کار به پر خپل وخت دغسي وسي اوس موږ سخت احتياج لرو په هر ډول چي ژر کيږي يو د پښتو جيبي لغت او قاموس به ترتيب کوو، او نوو زده کوونکو ته به يې ورکوو، د جناب رشتيا د اوومي فقرې تجويز که بيا وروسته په منځنۍ دوره کښي د روزني د دې ژبي د مفصل قاموس په ليك کښي عملي سي، ښه به وي، اوس موږ شدت احتياج له دغي لاري څخه منصرف کوي.

په اتمه فقره کښي چي د پښتو د ښوولو او زده کولو لار ښوولې سوې ده، هم سمه ده، مګر په پښتو د عملي او فني کتابو ترجمه او خپرول هم لمړی کار ندی، اوس موږ غواړو چي زموږ ګران هموطنان فقط دا ژبه زده کړي، چي ژبه عامه سوه علمي او فني کتب پخپله د عصر په مقتضا ورسره ډيريږي.اوس دستي موږ يو وار د ژبي زده کول له ځلمو څخه غواړو بس.

د پښتو پر ادبياتو چي جناب رشتيا څه ليکلي دي، دا موږ هم منو چي زموږ د ژبي ادبيات پر ابتدايي او زاړه حال پاته دي مګر د ادبياتو د اصلاح او لوړتيا لپاره د عام ملت روحيات او اجتماعي حالت تر نظر لاندي نيول کيږي. پوهان ځلمي نه ښايي چي يوازي خپل ذوق د دې چارو معيار وګڼي، ځکه چي مطلب د ادبياتو څخه د عوامو پر اخلاق او روح اغېزه اچول دي نو موږ دا ويلای سو، چي دغه د پښتو اوسني ادبيات د عوامو د روحياتو د تطور او ارتقاء سره سم راغلي دي.

که موږ ادبيات په نوي ډول واړوو، او ځلمي ادباء مو خپل نوی ذوق معيار وګڼي، ځکه چي عوام په نوي ذوق د علم له خوا نه دي اشنا سوي، نو به زحمت بې ځايه وي، او دا زموږ نوی ذوق به د عوامو پر روح اغېزه ونکړي، ځکه چي دوی هيڅ په دې ذوق روږد ندي.

نو زموږ ادبيات او زموږ موزيك چي جناب رښتيا محققانه څېړنه پر کړېده، که څه هم دغه څېړنه ذاتاً حقيقت ده، او انکار نه ځني کيږي مګر محيط او عمومي روحيات هم ښايي تر نظر لاندي ونيول سي، او هر کار پر خپل وخت وسي.

زما په عقيده خو اوس موږ ښايي بل کار ونکړو فقط د پښتو ژبي په تعميم او خپرولو او ښوولو کښي زيار وکاږو

او دغه ژبه پر دې اوسني حال يو وار ټول ملت ته وښيو، چي يو وار مو ر ژبه منځ ته راوستل او څه نه څه مو د ليك په ميدان کښي په رسميت سره ودرول، بيا به نو نور ټول اصلاحات او لوړتياوي ورته گوري. مگر که اوس مو ږ په هغو چارو لاس بوخت کو چي هغه د ژبي د روزني د دوهمي يا دريېمي دورې چاري دي نو به خپل مطلب راڅخه پاته وي، او په فرعياتو کښي به مو وخت تېر سوی وي. نن ورځ دي زلمي پوهان، اديبان، د قلم خاوندان، د واك څښتنان ، مشران، ملي خدمت کوونکي، ټوله په اتفاق او يو سلا و دې ته توجه وکي چي پښتو د ملت په طبقاتو کي رسماً په ټوله مملکت کښي ومنله سي هغه لاري چي فاضل ځلمي جناب رښتيا د پښتو د تعميم لپاره راښوولي دي ټوله سمي لاري او د ګټي ډکي چاري دي مو ږ د دې فاضل ځلمي مينه د خپلي ژبي سره په ښه سترګه وينو او له خاونده غواړو چي ټوله ځلمي دغسي د زړه عشق او مينه د خپلي ملي ژبي سره ومومي چي د دوی په توجه د اعليحضرت زلمي پښتون ټول مشر په مشرتوب او ښوونه دا ملي ژبه ژوندۍ سي او ټوله د ژوندون ښېګڼي ومومي.[1]

[1] _ طلوع افغان، ۱۳۱۷ لمريز کال، ۱۷ مه ګڼه، لومړی مخ.